# د پاکستان او افغانستان د پارلماني غړو مذاکرات

## اوومه جرګه

يوولسم دولسم دسمبر دوه زره دولسم ، اسلام آباد، پاکستان

<u>شريکه اعلاميه</u>

د پاکستان او افغانستان د پارلماني غړو ترمنځه د دسمبر په يوولسمه او دولسمه نېټه دوه زره دولسم کښې اسلام آباد کښې د پاك ـــ افغان پارلماني غړو اوومه مذاکره وشوه.

دواړو غاړو د دې خبرو سره اتفاق اوکړو چې بايد په مهمو چارو خبرې اترې او مذاکرات جاري اوساتلې شي. او دا هم چې بايد دا مذاکرات او خبرې اترې د مېډيا پځائې په ډپلوماتکو لارو اوکړې شي.د پارلمان غړو تېرو نزدې وختونو کښې په سفارتي کچ پورته کړې شوې ګامونه ستائنه اوکړه.هغوي په دې خبره ټينګار اوکړو چې د ددواړو ملکونو ترمنځه دې بداعتمادې ختمولو دپاره د خبرو اترو لار خپله کړې شي او د بلې ذريعې نه د کمك اخستو نه دې ډډه اوکړې شي.

پارلماني غړو اووئيل چې د پاکستان سلامتي د افغانستان او دغه رنګ د افغانستان سلامتي د پاکستان په ګټه ده.هغوي په دې خبره زور راوړو چې په سياسي کچه دې دپاکستان او افغانستان تر منځه دې پرتو کشالو حل اولټولې شي.د دواړو ملکونو د پارلمانونو سره تعلق لرونکو غړو اووئيل چې دوه زره څوارلسم نه روستو د امريکائي او ناټو عسکرو د افغانستان نه د وتو سره به د پاکستان او افغانستان دپاره نوې مواقعې ، فرصتونه او چېلنجونه راپېدا شي.

دواړو ملکونو له پکار دې چې په شریکه سره ټول چېلنجونه او فرصتونه په مواقعو کښې بدلې کړي.

د پارلمان غړو افغانستان کښې د امن خبرو اترو جاري ساتلو او تندولو باندې هم اصرار اوکړو.

د پارلمان غړي په دې صلا وو چې په راتلونکي کښې چې خارجي قوا د افغانستان نه اوځي او یا موجوده وخت کښې مونږ ته د بل یو دریم ملك دکردار ضرورت نشته.

هغوي اووئیل چې ترهه ګري د پاکستان او افغانستان دواړو دپاره تر ټولو لویه ستونزه ده او ترهه ګر د دواړو ملکونو په شریکه دښمنان دي.دواړو حکومتونو له پکار دي چې خپله خاوره د ترهه ګرئ دپاره د ګاونډي هېواد په ضد استعمالیدو ته پرې نږدي .او ترهه ګرئ کښې اخته خلقو ته دې جزاګانې ورکړي.

د پارلمان غړو د دواړو حکومتونو نه اوغوښتل چې د دواړو ملکونو تاجرانو او کاروباري خلقو ته تحفظ ورکړي.

د پارلمان غړو په دې خبره اتفاق اوکړو لکه څنګه چې دواړو ملکونو کښې د پاکو صافو ټولټاکنو توان موجود دې او دوي د دواړو ملکونو په ټولوبرخه والو غږ اوکړو چې خپلو ملکونو کښې دې د ښه والې د راوستلو په منظور فعال رول اولوبوي.

دوي غوښتنه اوکړه چې د واړو ملکونو ترمنځه دې تورزم او سیاحت ته وده ورکړې شي.

د دواړو ملکونو ترمنځه شوې ستراتېجیکي لوظنامې د مسودې پارلماني غړو هر کلې اوکړو او وے وئیل چې دا دې زر تر زره عملې کړې شي.

پارلماني غړو د د دواړو ملکونو تر منځه د بنديانو د خوشې کولو په اړه جوړ کړې شوي کمشن فعالولو هم تود هرکلې اوکړو.دوانړ و غاړو يو ځل بيا اووئيل چې د مجرمينو د تبادلې دپاره دې هم د پاکستان اوافغانستان ترمنځه لوظنامه لاس لېک کړې شي.

دواړو غاړو په دې هم زور راوړو چې دپارلمان غړي دې د تعلقاتو په وده کښې خپل کردار ترسره کړي او دخپلو خپلو پارلمانونو نه دې دغه لړ کښې مرسته اوغواړي چې دغه خبرې دخپلې خپلې خارجه پاليسۍ برخه جوړه کړي .

پارلماني غړو اصرار اوکړو چې د دواړوملکونو پارلماني غړي دې دواړو ملکونو ملکونو اولس او اقتصادي ودو دپاره د تعليم، تجارت ، او د نوي کول دپاره د تبادلو موقعې پېدا کولو کښې خپل کردار ترسره کړي.دغه رنګ د وانړوملکونو اولس ته دې د سفر دپاره دويزو عمل آسان کړې شي.

دواړو غاړو اصرار اوکړو چې چې بايد د افغان زده کونکو دپاره دې سکالرشپې او د روزنې پروژې نور هم زياتې کړې شي.

د پاکستان او افغانستان پارلماني غړو د پولې دواړو غاړو ته د ويزو نه بغير تګ راتګ باندې زرو راوړو او وې وئيل چې دا هله ممکن ده چې اول د ډپلومېټانو او تاجرانو تل راتله آزاد شي او بيا په مزه مزه د نورو خلقو هم.

د افغانستان د پارلمان غړو د اوږدې مودې دپاره د افغان کډوالو په مېلمستيا کولو د پاکستان مننه اوکړه او په دواړو حکومتونو غږ اوکړو چې پاکستان کښې مېشت په

لکهونو افغان کډوالو په عزت او حترام سره د واپسي دي یقیني کېږي شي.

د یورپي پارلمان په طرز دې د سوئیلي آسیائي پارلمان جوړولو دپاره پاکستان او افغانستان خپل تجویزونه مخې ته راوړي.

د پلډاټ دسېوري لاندې شوې دپاکستان افغانستان تېرو مذاکراتي غونډو جاج واخستې شو او دپارلمان غړو په دې خبره اطمینان څرګند کړو چې دغه لړ کښې اوسه پورې ښه پرمختګ شوېدې خو دې کښې ئې په مستقله توګه روانې راوستو زور راوړو.دوي د دې خبرې سره هم اتفاق اوکړو چې پارلماني فرېنډشپ ګروپ او پلډاټ دې د دواړو ملکونو د پارلمان د غړو کور کمېټي جوړولو کوشش اوکړي چې راتلونکي کښې د دواړو ملکونو ترمنځه کېدونکې مذاکراتو کښې خپل کردار ترسره کړي او شوې مذاکراتو باندې عملدرامد یقیني کړي.

پارلمیاني غړو راتلونکي وخت کښې دمذاکراتو دپاره د سیاسي فکرونو، سیمو او جنس د فرق نه بغیر یوشان نمائندګي ورکولو غږ هم اوکړو.د هغوي وېنا وه چې تېرو شپږو مزاکراتو نتیجه کښې مخې ته راغلي تجویزونو باندې دې زر ترزره عمل یقیني کړې شي. په دغه تجویزونو کښې مهم دا دي:

پارلماني غړو په پارلماني فرېنډشپ ګروپ ټینګار اوکړو چې د دوه رونړو ملکونو ترمنځه د بداعتمادئ ختمولو دپاره دې خپلو پارلمانونو باندې زور راولي.

1. دواړو ملکونو کښې د ترهه ګرو دپاره محفوظ استوګنځایونه ختمولو باندې کار کول.

2. د قاچاق په مخ نیوي خبره کول چې داسیمه کښې د ترهه ګرو دپاره مالي مرسته کوي.
3. د پولو د حفاظت انتظام نور ښه کول
4. دپېسو غېر قانونه اړولو راوړلو مخه نیول چې داهم ترهه ګرو ته مالي مرسته ورکوي.
5. د پاکستان او افغانستان د عسکرو او استخباراتي ادارو ترمنځه اړیکې او مرستې نور سېوا کول
6. دواړو ملکونو کښې دغیر سرکاري ادارو دلار پېسې لګولو دپاره ګټورې لارې چارې لټول
7. د تجارت، ریل، سړك هوائي سفر او ټیلیفون دلارې رابطې ښه کول.
8. د دواړو ملکونو ترمنځه د الیکټرانك او پرنټ مېډیا ترمنځه ښه تلې راغلې جوړول، او دواړو حکومتونو لخوا مطبوعاتي ادارو ته د یو بل ملکونو کښې د خپرونو دپاره آسانئ پېدا کول.

د پارلمان د غړو تجویز وو چې راتلونکي کښې باید د افغانستان نه د ناټو \ امریکائي عسکرو په وتو، افغانستان کښې د امن او مفاهمتي عمل په کوششونو او پرمختګ، د تجارت، تعلیم په چارو او باضابطه کولو، د پاکستان او افغانستان ترمنځه د اوبو په معامله د لوظنامې او د پولو په څار او دغه لړ کښې د مشترکه ګشت لوظنامې کولو باندې خبرې پکار دي.

د دواړوملکونو د پارلمان غړي د دې خبرې سره متفق وو چې د خبرو اترو په اختتام به خپرېدونکې شرېکه اعلامیه د خپل خپل پارلمیان او خارجه دفتر سره شریکوي.

شريک چېرمېن محترم سېنټر عبدالولي راجي، د مشرانو جرګې غړې، او محترم ميروېس ياسيني، د اولسي جرګې غړې، د افغانستان لخوا ګډون کوونکي غړي: سېنټر احمد معاون،سېنټر بهرام خان ځمکنې،سېنټر باز محمد زورمتي،سېنټر محمد امين صافي او سېنټر نثار احمد حارث، ښاغلې عبدافغار قائل،عبدالطيف پدرام،امير محمد يار،محمود خان سليمان خېل،قدرت الله ذکي،سخي مشواني، او سېد اسحاق ګيلاني.

پاکستان کښې د مختلفو سياسي ګوندونو سره تعلق لرونکي پارليماني غړو مذاکره کښې ګډون لرلو چې پکښې محترم فېصل کريم کنډي، د قامي اسمبلۍ مرستيال سپيکر،او د پاکستان افغانستان د فرېنډشپ ډلې کنوينئر،سېنټر محمد جهانګير بدر لېډر اف دي هاوس،پاکستاني سېنټ، سېنټر راجه ظفرالحق ، چېرمئن مسلم لېګ ن، چېرمېن سېنټ سټېډنګ کمېټې انډسټري او پېداوار، سېنټر حاجي محمد عديل،نائب صدر عوامي نشنل پارټي، د خارجه چارو د قائمه کمېټې چېرمئين،سنېټر فرحت الله بابر،سېنټر حاصل بزنجو،سېنټر عبدالنبي بنګش،سېنټر آمر جيت،سېنټر محمد صالح شاه،سېنټره نجمه حمېد،سېنټر نجم الحسن،سېنټر عبدالقادر خانزاده، عبدالرشيد ګوډېل ممبر قامي اسمبلي، آصف حسين، عمرانه سعيد، اقبال محمد علي خان،جميله ګېلاني،محمد ايوب شېخ ، محمد ريحان هاشمي،نصير بهټه،قدسيه ارشد،رياض فتيانه،سائره افضل طرار،سيمه جمېلي، شېرين ارشد خان،تسنيم صديقي،طاهره اورنګزيب د قامي اسمبلي،